UNAMA
د ملګرو ملتونو د مرستو د پلاوي دفتر د افغانستان لپاره
د استراتیژیکو اړیکو او ویاند دفتر، کابل، افغانستان
وینا
http://unama.unmissions.org

## له کابل څخه د ملګرو ملتونو مرکز نیویارک د ښاغلي یان کوبیش ته ویډیوي کنفرانس

## چهارشنبه ۲۵ جون ، ۲۰۱۴

ښاغلی رییس او د امنیت شورا درنو غړو!

د عمومي منشي د جون د ۱۸مې راپور د وورستیو دریو میاشتو د پیښو د او بهیرونو یوه هر اړخیزه توضیح وړاندې کوي. دغه راپور د ټاکنو ددویم پړاو څخه د مخه د جون په ۱۴ مه تیار شوی وو. له دې امله زه باید په ټاکنو پورې تړلو هغو پیښو په اړه راپور تیار کړم چې له هغه وروسته رامنځته ته شوي دي ، د هغو پیښو په اړه چې له امله یې ما و نه شو کولای له تاسو سره په نیویارک کې ووینم.

ستاسې غونډه د داسې ننګوني په وخت کې جوړیږي چې د افغانستان ټاکنیزې اداري او قانوني چوکاټ او ورسره د دې هیواد د سیاسي مشرانو بلوغ تر ازموینې لاندې نیولي. د افغانستان د یو والي او ټیکاو لپاره اوس تر ټولو حیاتي مسله دا ده چې د ولسمشري لپاره دوه نوماندان ، ډاکټر عبدالله عبدالله او ډاکټر اشرف غني احمدزی او د هیواد مشرتابه څنګه کولای شي دغه پیښې او معضله تر کابو لاندې راولي.

له مهال وېش سره سم له یوې متفقې او ثابتې پایلې سره یو ځای د سیاسي لیږد ترسره کول هم د افغانستان د خلکو غوښتنه ده او هم د هیواد د سیاسي ، امنیتي او پرمختیایي ګواښونو په وړاندې د پرمختګ لپاره یو ښه بنسټ دی. په دې بهیر کې ضروري بریښې چې افغانان د راتلونکو لوړې کچې نړیوالو سیاسي غونډو رهبري په غاړه واخلي چې غواړي د راتلونکو کلونو لپاره د افغانستان او نړیوالې ټولنې ترمنځ دوه اړخیزو ژمنو ته شکل او پیاوړتیا ورکړي.

ښاغلی رییس ،

کوم شي چې موږ په دې سختو شرایطو کې هیله من کړي یو ، هغه د افغانانو هغه قوي او هڅوونکې اراده وه ، چې د اپریل په ۵ او د جون په ۱۴ یې د ټاکنو په ورځو کې وښودله. په دې ورځو کې دوي په ویاړ او قوي ارادې سره را ووتل چې د سیاسي لیږد دیموکراتیکه لار تقویه کړي او د ورانوونکي تاوتریخوالي کړی ته د پای ټکی کیږدي. د ۲۰۱۴ د ولسمشریزو او د ولایتي شوراګانو ټاکنې د افغانانو له خوا رهبري شوي ، تنظیم شوې ،ترسره شوي او ساتل شوې دي. ټاکنیزې اداري لا اوس هم وده کوي ، خو د

دې دورې د ټاکنو ترسره کول د کورنیو او بهرنیو څارونکو په باور د پخوانیو هغو په پرتله ښې وې خو د دې مانا دا هم نه ده ې په ټاکنو کې هيڅ درغلي او بې نظمي نه دي ليدل شوې.

د ټاکنو لومړی پړاو چې له اتو نوماندانو څه یو هم په دې و نه توانيده چې د ورکړل شویو رایو څخه ۵۰ جمع یو رایې د خپل ځان کړي د دې مانا درلوده چې د افغانستان د اساسي قانون له مخې ټاکنې باید دویم پړاو ته وغځيږي. دویم پړاو د جون په ۱۴ ترسره شو. د ځايي او نړيوالو ناظرينو په باور په دغه پړاو کې په ټوليز ډول ډيرو خلکو ګډون درلود.

زه غواړم د افغانستان د کورنيو چارو د وزارت مشرتابه وستايم او د پوليسو او اردو پرسونل هڅې چې د ټاکنو له پروسې څخه يې ساتنه وکړه د ستاينې وړ ګڼم ، چې په ځينو مواردو کې يې د خپل ژوند په بيه ترسره کړه.

په داسې شرايطو کې چې د خونديتوب لپاره په چټکۍ سره تياری نيول کېده او طالبانو د اوړي په موسم کې خپلو بريدونو ته زور ورکړی و ، چې د هلمند په ولايت کې توده جګړه روانه وه ، دې د ملي برياليو عملياتو له امله په امنيتي خدمتونو د خلکو باور لوړ کړ او د دوي مورال يې اوچت کړ. څرنګه چې ټاکنې د اوړي د موسم د جګړو په وخت کې ترسره شوې ، د جون په ۱۴ په ټول هيواد کې ۵۳۰ امنيتي پيښې رامنځ ته شوې چې ۲۵۴ له دغو پيښو څخه داسې ارزول شوې چې په ټاکنو پورې تړاو درلود. که څه هم ياغيانو د دې لوړه کړې وه چې د ټاکنو بهير به ګډوډ وي ، خو دوي په دې کار کې بيرته پاتې شول.

د راپورونو له مخې ، په څو مواردو کې د ځايي قوماندانانو او ټولنو ترمنځ داسې جوړ جاړی شوی و چې د ټاکنو پروسه او ګډون کوونکي به د بريدونو هدف نه ګرځي. په نورو مواردو کې د تاوتريخوالي پيښې هم رامنځ ته شوې ، لکه د ولسمشريزو ټاکنو لپاره د نوماند ډاکټر عبدالله په کاروان باندې بريد چې مسووليت يې تر اوسه چا نه دی منلی. ډاکټر غني هم تر بريد لاندې راغلی او له ګواښونو سره يې په زړه ورتيا مقابله کړې ده. که چيرې ورانکارانو غلبه موندلی وای او خپلو هدفونو ته رسيدلي وای ، پايلې به يې د هيواد لپاره ويجاړونکې وای.

په ټوليز ډول ، د جون په ۱۴ ملګرو ملتونو د ۵۴ ملکي وګړو مړينې ، چې ۲۰ تنه يې ماشومان وو او د ۱۶۳ نورو ملکي وګړو د ژوبلې پيښې ثبتې کړې دي. له دې ورځې وروسته ، په يوه قضيه کې ، چې په مناسب ډول يې نړيوالې غندنې راپارولې ، په لويديځ افغانستان کې د ۱۱ تنو رايه اچوونکو رنګيدلې ګوتې د راپورونو له مخې د ياغيانو له خوا پرې کړای شوې ، د طالبانو مشرتابه داسې عمل د غير اسلامي کړنې په څېر رد کړی دی. زه د يوه قرباني هغې زړه ورتيا حيران کړی يم چې رسنيو ته يې وويل چې دغه کار به هغه له دې څخه منع نه کړي چې په راتلونکې کې هم د خپلې رايې ورکونې له حق څخه بيا بيا استفاده وکړي.

د ټاکنو په موده کې د دې معضلې په وخت کې اوس د افغانستان مشرتابه باید تر هر څه د مخه د نوماندانو د کمپاين د کارمندانو ، د ټاکنيزو کارکوونکو ، امنيتي چارواکو او رايه ورکوونکو د ارادې او قربانيو په اړه اندېښمن وي. په ميليونونه رايه ورکوونکي راووتل چې دواړو نوماندانو ته رايې ورکړي. دوي د بدلون لپاره خپله غوښتنه وښودله او ښکاره يې کړه چې د خپلو ځانونو او خپلو ماشومانو لپاره يوه سوله ييزه راتلونکې غواړي. د دوي د غوښتنو او رايو باید احترام وشي او وساتل شي. دا حقيقت چې تر اوسه پورې د دې ډيرو هڅو پايله په يوه معضله بدله شوي ، ډيره د خواشينۍ خبره ده او له خطر څخه ډکه ده.

ښاغلی رييس ،

دا د افغانستان د ټاکنيزو خپلواکو ادارو او افغاني ګډونوالو- د نوماندانو په ګډون- مسووليت دی ، څو يقيني کړي ، چې د ټاکنو پروسه په منظم ډول او په خپل وخت پای ته ورسوي ، چې له مخې يې مشروع رهبران مخې ته را ووځي. د ټاکنو د دويم پړاو څخه لږ وروسته ، ډاکټر عبدالله د ټاکنيزو ادارو د طرفداري او مهمو درغليو په يادولو سره پريکړه وکړه چې له ټاکنيزې پروسې څخه ووځي. د ده تورونه په دې متمرکز وو چې په ځينو سيمو کې د رايه ورکوونکو شمير زيات و ، څه شی چې د ډاکټر غنی لوری دې ته منسوبوي چې دوي د ټاکنو لپاره ډيرې هڅې بسيج کړې وې. په وروستيو کې د ټاکنو د کميسيون دار الانشار د رييس له استعفا سره دا هيله مندي پيدا شوه چې له پروسې سره د بيا يو ځای کيدو يوه لار پرانستل شوه او په ځاص ډول په دې تمامه شي چې د کمپاينونو د ټيمونو او موسسو ترمنځ به مباحثې پيل شي څو د چيک او کنترول پروسه تقويه شي ، چيرې چې د رايې ورکونې په شکلونو بې باوري موجوده و او کولای شي چې په ټاکنيزې پروسې بايد باور زيات کړي او د هغې پايلې ومنل شي.

د ولسمشري لپاره نوماندان او صلاحيت لرونکي ټاکنيزې اداري بايد په سملاسي ډول له يو بل سره ووينې څو د حل عملي لارې تعريف کړي ، چې پروسه په ښه کيفيت او اعتبار سره پرمخ ولاړه شي. له ټاکنو څخه بهر د ليږد لپاره بله سياسي لار نشته چې د هيواد مشروع مشرتابه وټاکي او د هيواد اساسي قانون او هغه لاس ته راوړنې وژغوري چې د طالبانو له ماتې وروسته لاس ته راغلې دي.

دا ستاسو تر ماموريت لاندې چې ملګري ملتونه ، او زه د ځانګړی استازی په توګه ، کولای شو د افغان چارواکو په غوښتنه د ښه نيت دفترونه برابر کړو. موږ په دی وروستيو کې داسی غوښتنی تر لاسه کړی دی. خو زه د ملګرو ملتونو د ښکيلتيا په برخه کې د همکاريو د حدودو څخه خبر يم. دا د افغانانو ټاکنې دي. موږ کولای شو د حل لارو په موندلو کې د افغان ډلو سره مرسته وکړو. موږ کولای شو تخنيکی مرستې برابرې کړو او د پياوړي چيک او بيلانس د امکاناتو او څرنګوالی په هکله چيری چې د پروسی په اړه پوښتنی موجودی وی ،سلامشوری ورکړو. هغه څه چې موږ نه شو کولای هغه د حل لارو چمتو کول او د افغانانو په استازيتوب پريکړی کول دی- دا په ځانګړی ډول د افغانانو مسوليت دی. د ملګرو ملتونو د هڅو موخه د افغان نهادونو او شريکانو مرسته کول دی ،موږ نه شو کولای هغوی بدل او يا بی هم ځای ونيسو.

د دوهم پړاو ټاکنو په تعقيب د راټوکيدلو ستونزو په نظر کې نيولو سره ، د مخ پر زياتيدونکی قومی فرعی اوازونو په شمول ، په تيره بيا د دواړو کانديدانو څخه د زياتی زمامداری او پوخوالی تمه کيږی. که نه نو د دواړو نوماندانو او د هغوی د ملاتړو تر منځ د مخالفت او مخامخ کيدو خطر موجود دی او بايلونکی طرف ښايی د پايلو د منلو څخه ډډه وکړی او ښايی د ټاکنو مشروعيت تر پوښتنی لاندی ونيسی. دا ښايی اوږدی شخړی ته لار هواره کړی. افغانستان نه شی کولای د دی د عهدی څخه ځان و باسی او دا به د هيواد په سوله ،ټيکاو ، اقتصاد او په سيمه د نه پيشبينی وړ ناوړه اغيزی پريږدی. اړتيا ليدل کيږی چې نوماندان د يو بل سره همکاری وکړی څو د داسی سناريو ګانو مخه ونيوله شی چې په اوس مهال کې له بده مرغه له پامه نه شی غورځول کيدای.

په داسی نازک وخت کې ، کيدای شی ځينی تيروتنی ،سو تفاهمونه ، غلط فهميانی او د ځينو سخت دريځو عملونه پراخی پايلی پر ځای پريږدی. زه د دواړو کانديدانو د پلويانو تر منځ د ارامی غوښتنه کوم څو د اشتعالی تندو او بدو خبرو د لهجی د کارولو څخه ډډه وشی څو قومی بيلتون را منځ ته نه کړی. په ډيره خواشينی ، په دی کې د ۱۹۹۰ سليزی د تنظيمی شخړو ، ورور وژنی د خاطرو په اړه خبری اتری شاملی دی. د عامه بی نظمی او بی ثباتی څخه د مخنيوی په موخه بايد دواړه مشران اړين اقدامونه ترسره کړی.

د هیواد سیاسي قشر ، په تیره بیا دواړه نوماندان ، هر یو ډاکتر عبدالله او ډاکټر غنی د دی حالت د کنترولولو په برخه کې ستر مسولیت لري. د هیواد د نافذه قوانینو په مطابقت کې د خلکو د هیلو سره سم باید په ټاکلی وخت د مشرتابه د لیږد د پروسی درناوی وشی. د روانی معضلی د پای ته رسولو په موخه باید دواړه ډلی په قطعی او فعال ډول د یو بل سره ښکیل شی او په دی حساس وخت کې د افغانستان د مخ ته تګ د مسیر سره مرسته وشي.

په ټاکنو کې په ټوله نړی کې په پای کې یوازې یو ګټونکی وی. په اوس حال کې د مخاطری د قبلولو سیاست ته نه بلکه زمامداری ته اړتیا ده.

ښاغلی رییس ،

په دی ځای کې به په مختصر ډول یو بلی مهمی موضوع ته ور وګرځو ، په دې ورستیو کې د افغانستان او پاکستان تر منځ اړیکی ترینګلی شوی. کابل ته د یوه ورته لیدنی په تعقیب ، سبا د افغانستان د ملی امنیت مشاور د سیاسي ،نظامی او امنیتی کارکونکو د یوه جګپوړی هیت په مشری اسلام اباد ته سفر کوی. تمه ده چې په دی سفر کې به په ټولو اړخونو خبری اتری وشی خو په تیره بیا به د ترهګری د ګواښونو په وړاندی د مبارزی په اړه د دواړو هیوادونو په ګډو هڅو تمرکز وشی. زه د هغو اقدامونو چې موخه یی د دواړو هیوادونو د پوځونو او عامه وګړو تر منځ د عملی همغږی او همکاری د ښکیلتیا وده ده ، ستاینه کوم. زه د نویو دوه اړخیزه میکانیزمونو چې موخه یی د لا زیات ټیکاو او لا زیاتی اقتصادی پراختیا د ګډو ارزښتونو په لور د جاری مسیر څخه په ښه توګه د ډاډ حاصلول دی ، ملاتړ کوم.

د عمومي منشي د راپور د نهایی کیدلو راهیسی ،د پاکستان د اسلامي جمهوریت حکومت په شمالي وزیرستان کې پوځي عملیات پیل کړی. د دی عملیاتو په نتیجه کې د متاثره شویو سیمو څخه زیات وګړی په ستره پیمانه بی ځایه شوی دی. د دغو بی ځایه شویو کسانو څخه په زرګونو کسان د پولی په تیریدو سره د افغانستان خوست او پکتیکا ولایتونو ته خوځیږی. افغان چارواکی د ملګرو ملتونو د نمایندګیو ، وجهی صندقونو او پروګرامونو په بشپړ ملاتړ کار کوی څو د دغو بی ځایه شویو کورنیو سره مرسته وکړی ، زیاتره کسان په ځایی ټولنو کې ځای په ځای کیږی. د افغانستان د اقتصادی ننګونو او د دی هیواد د خپلو داخلی بی ځایه شویو کسانو په نظر کې نیولو سره ، هیله کیږی چې د پاکستان د پولی ها خوا عملیات داسی پر مخ یووړل شی چې د ملکی کسانو یو مخیز لیږد لا پراخ نه شی.

ښاغلی رییس ،

په حساسو وختونو کې ، په نړیوال ملاتړ کې پیشبینی غیر مطمین او خطرناک کار دی. د لوړی کچې د ناستو راتلونکی پرلپسې زمانی سلسله د نوی اداری سره د ژمنو د څرګندولو او له سره بیا نوی کولو لپاره د یوه ځانګړی فرصت په توګه کتل کیږی: د آسیا د زړه سیمه ییزی همکاری /د ستانبول د وزیرانو د کچې پروسه چې د چین د خلکو د جمهوریت له خوا په لار اچول شوی ، په ویلس کې د ناتو په غونډه کې ایساف او د افغانستان په هکله د لندن د کنفرانس پراختیایی لومړیتوبونه. دا ټول اوس د افغانستان په سیاسي مشرانو او ادارو پوری مربوط کیږی څو په منظم ډول او په وخت سره د ټاکنو معضله او د سیاسي لیږد بشپړیدل تکمیل کړی.

ښاغلی رییس ،

د راپور دغه برخه په ټوله کې د افغانستان لپاره هم امید بخښونکی او هم ننګونکې ده. د ټاکنو په پروسه کې د خلکو ګډون او ښکیلتیا د اهمیت وړ وه. که څه هم چې په ټاکنو اقتصادی رکود مسلط وه ، د اوسنیو بې باوریو ، د باور د نه شتون ، د یاغیتوب د فعالیتونو او هغو تخریبونکو په شمول چې د نړیوالی ترهګری او مخدره توکو د شبکو سره یی تړاو درلود ،د ټاکنو اوسنی معضله او د طبعی خطرونو او د شخړی له امله وژنی او بی ځایه کیدنی. تیره اونی د سولی د عالی شورا د دارالانشا په مشر معصوم ستانکزی چې د سولی لپاره یی نه ستړی کیدونکی هلی ځلی کړی ،برید ترسره شو.

خو بیا هم د افغانستان خلک د ښی راتلونکی په تمه دی او د خپلو مشرانو څخه غواړی چې د سولی لپاره کار وکړی.

په پای کې ،ښاغلی رییس ،غواړم یادونه وکړم چې افغانستان د ټول اسلامی امت سره یوځای د روژې مبارکه میاشت لمانځي. زه د زړه له کومی هیله کوم چې د روژی مبارکه میاشت د زړه سوی په روحیه باندی ولمانځل شی او د تعمق او دعاګانو له لاری د یوه موټی او باثباته افغانستان د سوکاله او سوله ییزی راتلونکی لپاره لار هواره کړی.

خپل درانه همکار ښاغلی سفیر طنین ،امنیت شورا او ټولو سوله خوښونکو خلکو ته د روژې مبارکې وایم.

ستاسې د پاملرنې څخه مننه

***

---

**United Nations Assistance Mission in Afghanistan (UNAMA), Kabul, Afghanistan**

**All media contact details are online at: http://unama.unmissions.org**